
euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

An Roinn Dlí agus Cirt,
Gnóthaí Baile agus Imirce
Department of Justice,
Home Affairs and Migration

آیرلینډ

# هغه څه چې تاسې باید د EURODAC په اړه پوه شئ





PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې دا بروشور د دې لپاره ترلاسه کوئ چې چارواکي اړتيا لري ستاسې بيومتريک معلومات واخلي.



بيومتريک معلومات يعني د ګوتو نښې او ستاسې انځور.



دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به يو ځای، د Eurodac ډېټابيز ته واستول شي.

په دغه پروسه کې ستاسې حقونه او له تاسې کېدونکې تمې په دغه بروشور کې تشريح شوي دي.

## EURODAC څه شی دی؟

EURODAC هغه اروپايي ډيټابيز دی چې د اروپايي ټولنې+ هېوادونو ته دننه کېدونکي کس د مشخصو کټګوريو په اړه معلومات زېرمه او پرتله کوي. دغه کټګورۍ په دې بروشور کې بيان شوي دي.

دغه ډيټابيز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کيږي کوم چې کولای شي ستاسې معلومات پروسيس او ترې راوباسي. که چېرې تاسې بې اجازې کوم بل د اروپايي ټولنې+ هېواد ته سفر کړی وي او ستاسې معلومات بياځلي اخيستل شوي وي، نو ستاسې ټول معلومات کوم چې په Eurodac کې زېرمه شوي دي هغه به د هغه هېواد د چارواکو له خوا وليدل شي. په ځينو حالاتو کې به ستاسې معلومات په نويو معلوماتو سره اپډيټ شي.

## د اروپايي ټولنې+ هېوادونه کوم دي؟

**تاسې اوس په آيرلينډ کې ياست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**


د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليا، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيا، سلواکيا، سلونيا، هسپانيه، سويډن او

4 نور هېوادونه: ايسلېنډ، ليچتنستين، ناروې، سويټزرلنډ.

## د EURODAC موخه څه ده؟

Eurodac پنځه اصلي موخې لري:

- له اروپايي ټولنې+ هېوادونو سره مرسته تر څو پرېکړه وکړي چې کوم هېواد ستاسې د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د څېړلو مسوول دی
- د اروپايي ټولنې+ هېوادونو ته د قانوني او ناقانونه کډوالۍ له څارنې سره مرسته
- د ملي چارواکو تر منځ د معلوماتو شریکول او د جرم او ترهګرۍ مخنیوی
- د دې ډاډمنتیا چې هغه ماشومان کوم چې اروپا ته راځي هغوی به تعقیب او ساتنه به يې وشي
- د دې ډاډمنول چې نور اروپايي ډېټابېزونه چې د ویزو په څېر معلومات لري، په سمه توګه کار کوي.



## په EURODAC کې د چا معلومات زېرمه کېږي؟

Eurodac کې د هغو خلکو معلومات شامل وي کوم چې د اروپايي ټولنې+ د هېوادونو اتباع نه وي او:

- د نړیوال خوندیتوب لپاره يې غوښتنه سپارلې وي
- پرته له اجازې د اروپايي ټولنې+ هېواد له پولې را تېر شوی وي
- په سمندر کې له ژغورل کېدو وروسته د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد ته راوستل شوی وي
- د اروپايي ټولنې+ په یوه هېواد کې ناقانونه پاته شوی وي
- د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد ته د اروپايي ټولنې د بیا مېشتیدو يا د بشرپاله منلو د پروګرام يا د ملي بیامېشتیدنې پروګرام له لارې را رسېدلی وي
- لنډمهاله خوندیتوب ورته ورکړل شوی وي.

## څوک زما معلومات لیدلای شي؟

د اروپايي ټولنې+ هېواد کې د پناه غوښتنې ملي چارواکي به ستاسې بیومتریک معلومات واخلي او له نورو اړوند معلوماتو سره به یې یو ځای Eurodac ته ولېږدوي او د پرتلې پایله به تر لاسه کړي.

د اروپايي اتحادیې د قانون پلي کولو د همکارۍ اداره (The EU Agency for Law Enforcement Cooperation) او ملي پولیس کولای شي د جدي جرمونو او ترهګرۍ د مخنیوی، کشف او پلټنې په خاطر Eurodac سیستم ته د لاسرسي غوښتنه وکړي. هغوی کولای شي په Eurodac کې ستاسې د معلوماتو پلټنه وکړي.

> ❗ **مهم!** ستاسې په اصلي هېواد کې به چارواکي د دې جوګه نه وي چې ستاسې معلوماتو ته لاسرسی ولري.

## که چېرې زه د خپلو ګوتو د نښو له ورکړې انکار وکړم، نو څه به پېښ شي؟



د قانون له مخې تاسې مکلف یاست چې خپل بیومتریک معلومات ورکړئ.

دا چې ولې ستاسې د ګوتو نښو ته اړتیا ده، خورا مهم دلایل لري. که چېرې تاسې پناه غوښتنې ته درخواست کړی وي، نو بیا به دغه پروسیجر کې دا یو اړین ګام ګڼل کېږي.

د ګوتو د نښو معلومات همداشان کولای شي په اروپايي ټولنې+ هېوادونو کې ستاسې د کورنۍ د غړو په موندلو کې مرسته وکړي.

که چېرې ستاسې د ګوتو نښې له منځه تللې وي، نو ستاسې د ګوتو نښې به یو ځل بیا په راتلونکې کې واخیستل شي.

که تاسې قصداً خپلې د ګوتو نښې زیانمنې کړئ، نو دا کار به منفي پایلې ولري.

د بېلګې په توګه، که تاسې د پناه غوښتنه کړې وي، دا پروسه ممکن ودرول شي.

که ستاسې پروسه ودرول شي، دا معنا لري چې تاسې نور د پناه غوښتونکي په توګه نه پېژندل کېږئ. په دې سره به تاسې هم اوس او هم راتلوکې کې له دې حالت سره تړلي ټول حقوق له لاسه ورکړئ.

د اروپايي ټولنې+ هېوادونو چارواکي ممکن د وروستي انتخاب په توګه له زور څخه کار واخلي ترڅو ستاسې بيومتريک معلومات ترلاسه کړي. د وروستي تدبير په توګه، هغوی ممکن تاسې توقيف کړي، ترڅو ستاسې هويت وټاکي يا تاييد کړي.

که تاسې په دې هېواد کې چارواکو ته د ګوتو د نښو له ورکولو څخه انکار وکړئ، نو دا کار به ځانګړې پايلې ولري.

په دې هيواد کې چارواکو ته ستاسو د ګوتو نښې معلوماتو چمتوکولو څخه انکار د نړيوال خونديتوب دفتر لپاره يو دليل دی چې په ضمني ډول ستاسو د نړيوال خونديتوب غوښتنليک بيرته واخلي.

## زما د EURODAC معلوماتو په اړه زما حقونه څه دي؟

د اروپايي ټولنې+ هر هېواد داسې يوه اداره لري چې د معلوماتو کارول کنټرولوي. تاسې حق لرئ چې د معلوماتو له کنټرول کوونکي او د معلوماتو د ساتنې افسر سره اړيکه ونيسئ، او غوښتنه وکړئ چې هغه معلوماتو ته لاسرسی درکړي چې په Eurodac کې ثبت شوي دي.

تاسې کولای شئ د خپلو معلوماتو د اصلاح غوښتنه وکړئ که تاسې داسې احساس کوئ چې دا:

- ناسم دي او بايد اصلاح شي
- نيمګړي دي او بايد تازه شي

تاسې کولای شئ د خپلو معلوماتو د حذف غوښتنه هم وکړئ که تاسې داسې احساس کوئ چې دا:

- په ناقانونه توګه په Eurodac کې ثبت شوي دي.

تاسې کولای شئ د همدې بروشور په وروستۍ پاڼه کې د معلوماتو کنټرول کوونکي او د معلوماتو د ساتنې افسر د اړيکې معلومات ومومئ، چې عنوان يې دی **«نور ګټور معلومات»**.

که تاسې غواړئ د خپلو معلوماتو د مديريت په اړه رسمي شکايت وکړئ، کولای شئ له ملي نظارتي اداري سره اړيکه ونيسئ.

د ملي نظارتي اداري د اړيکې معلومات هم د همدې بروشور په وروستۍ پاڼه کې موجود دي.

# نور ګټور معلومات

## د معلوماتو د کنټرول دفتر د اړیکې معلومات

لاندې تاسې کولای شئ وموم‍ئ چې څنګه د دې هېواد د معلوماتو د کنټرول دفتر او د معلوماتو د ساتنې افسر سره اړیکه ونیسئ.

د معلوماتو کنټرول کوونکی تاسې ته معلومات درکولی شي چې کوم شخصي معلومات مو په Eurodac کې ثبت شوي دي. که ستاسې شخصي معلومات په دقیقه توګه نه وي ثبت شوي، تاسې کولای شئ د اصلاح غوښتنه وکړئ.

که تاسې داسې احساس کوئ چې ستاسې کوم معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي، تاسې کولای شئ د اړیکې د لاندې معلوماتو له لارې د هغو د حذف غوښتنه وکړئ.

د معلوماتو کنټرولر د اړیکو توضیحات دا دي:

International Protection Office, Immigration Service Delivery, 79-83 Lower Mount Street, Dublin 2, D02 ND99

یا contact@ipo.gov.ie

## د معلوماتو د موضوع د حقونو په اړه معلومات

په دې هېواد کې، تاسې د خپلو شخصي معلوماتو د کارونې په اړه لاندې ځانګړي حقوق لرئ:

ستاسو د معلوماتو د خوندیتوب حقونو په اړه توضیحات د عدلیې، کورنیو چارو او مهاجرتونو وزارت د معلوماتو د ساتنې پالیسۍ کې موندل کیدی شي چې په https://assets.gov.ie/static/documents/department-of-justice-data-protection-policy.pdf کې شتون لري. تاسو کولی شئ د عدلیې، کورنیو چارو او مهاجرت وزارت د معلوماتو د ساتنې افسر سره د بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ: dataprotectioncompliance@justice.ie

## د ملي نظارتي ادارو د اړیکې د جزئیاتو په اړه معلومات

تاسې کولای شئ د دې هېواد له ملي نظارتي اداري سره د اړیکې لپاره لاندې معلومات وکاروئ.

که تاسې داسې احساس کوئ چې ستاسې کوم شخصي معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي، کولای شئ رسمي شکایت ثبت کړئ.

د معلوماتو د ساتنې کمیسیون د اړیکو توضیحات دا دي:

6 Pembroke Row, Dublin 2, D02 X963

یا تاسو کولی شئ د https://forms.dataprotection.ie/contact کې آنلاین اړیکه ونیسئ.

An Roinn Dlí agus Cirt,
Gnóthaí Baile agus Imirce
Department of Justice,
Home Affairs and Migration

euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

دا بروشور یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشور بیا تولید او بدلون یوازې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې بروشور کې د شامل شوو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې بروشور کې د موندل شوو معلوماتو کارولو ذمه واری نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025